عبدالرحمن زمانی

# په دا هسې پسرلي به څه کړم

چې چمن مـــــې په باروتو کې سوځيږي — په دا هسې پسرلي به څه کړم
چې غوټۍ يې څپـــــــــېدو ته نه رسيږي — په دا هسې پسرلي به څه کړم
چې مياندې بوري، پېغلې د سپو سره بدليږي — په دا هسې پسرلي به څه کړم
چې د زرو زور کلچر، ورکې ترا وسه لا چليږي — په دا هسې پسرلي به څه کړم

***

ما ويل د ناخوالو بې دردـيو دا دوران به تير شي
تيردردونه او کړاونه په څه شـــان به تير شي
چې يې په ځمکه سيوري او په آسمـان ستوري نلرل
دغه لاس پوخي تپل شوي ټوپکچيان به تير شي

خو ګورم څه وشول او نور به لا څه کيږي
چې چمن مې په باروتو کې سوځيږي — په دا هسې پسرلي به څه کړم

***

غليمه دا ستا لګولې اور به دې، خپله لمن وسيځي
رياض دې کــه پنډۍ، تهران او واشنګټن وسيځي
خره ته جوار او اوربشې يـــو دي ، په دې پوه شه
زما بڼ خو تالا، ستا به هم سبا دئ او که نن وسيځي

پرون د چا، نن ستا، سبا د بل ډول ته ګډېږي

چې چمن مې په باروتو کې ســــوځېږي　　　　　پــه دا هسې پسرلي به څه کړم

***

د "اوس مشره" زمونږ د هیلو نوبهار خو دا سې نه ؤ

دتیارو شپو دا میدونو، رونږ سهـــار خو دا سې نه ؤ

تر بې عقلي ناوې، هوښیاره کـــــــــونډه ښه ده

د بخښنې منشور دې ومنو، پـــکار خو دا سې نه ؤ

چې له ځایه نوي مست، په بنګو نه مستېږي

چې چمن مې په باروتـــــو کې سوځېږي　　　　　په دا هسې پسرلي به څه کړم

***

دغـــلامۍ کړۍ د چا د غاړې هــــــــار نشي

په یوه ګل، ګــــــــوره چیرې هم بهـــار نشي

چې یې نوم وي شړۍ، څــــــــه پیره څه نرۍ

دپسرلي په فاحشې ود مني په راهبې اعتبار نشي

چې تر خو پسرلې نشي بلبل کله چغېږي

چې چمن مې په باروتو کې سوځېږي　　　　　په دا هسې پسرلي به څه کړم

***

ويلي هوښيارانو ، په يوه کتاب خوک نه مـلا کيږي

وايمه په ډاګه د بل په پرتوګ د ې شــــرم نه پټيږي

ټول عالم غزا ته ځي، ګنجې سرکوزې غـــلا ته ځي

عبدالرحمانه په اوتو - بوتو دا وړی نه شړی کيږي

د زماني وينا ده که په نيمه خوک پوهيږي

چې چمن مې په باروتو کې سـوځيږي | په دا هسې پسرلي به څه کړم

چې غوټۍ يې خپړيدو ته نه رسيـــږي | په دا هسې پسرلي به څه کړم

***

هيوارد ، کاليفورنيا

۲۴ مارچ ۲۰۰۷ کال